# مالوماتي پاڼه

## د دولتي مرستو ترلاسه کوونکو لپاره له لګښت څخه د معافیت او ثبت پاڼه

۱۰/۲۰۲۲

GEBÜHREN INFO SERVICE

Bundesagentur für Betreuungs- und Unterstützungsleistungen

GEBÜHREN
INFO SERVICE

# منځپانګه


د ثبت او لګښت پرې کولو مکلفیت ........................................................ ۳

د ځای ټاکنه ........................................................................ ۳

د لاسرسي شرطونه - دوې مرحلې/اداري پروسه ........................................................ ۴

د ترلاسه کولو لپاره قانوني شرطونه ........................................................ ۴

کور کې د اوسېدونکیو ګډ میاشتینی عاید ........................................................ ۴

د معافیت د غوښتنې لپاره کومو نورو سندونو ته اړتیا لیدل کېږي ........................................ ۵

د تېلفون د کرېډېټ لپاره مالي مرسته ........................................................ ۵

انلاین خدمتونه ........................................................................ ۶

د معافیت حسابوونکی ........................................................................ ۶

د اړیکو مالومات ........................................................................ ۷

GIS
GEBÜHREN
INFO SERVICE

## د ثبت او لګښت مکلفیت

د اصولو له مخې د راډیو تلویزون د لګښت د ورکولو قانون ته په کتو چې هرچېرې د رادیو تلویزون امکانات وي لګښت یې باید ورکړل شي. د لګښت ورکولو د قانون له مخې تر ټولو ستر واحد هغه ودانۍ ده چې د راډیو تلویزون سیګنال د اخیستو وړتیا ولري. کله چې وار د مخه د یوه ټاکلي ځای لپاره لګښت ورکول کېږي، اړتیا یې نشته چې جلا لګښت ورکړل شي

د راډیو تلویزون د لګښت د قانون یوه څنډه: RGG, BGBl. I Nr. 159/1999
**د راډیو تلویزون د لګښت د راټولولو په اړوند فدرال قانون**

**د راډیو تلویزون د لګښت د قانون له مخې د ثبت او یې پرې کولو مکلفیت**

*(1)* څوک چې د ***2 §*** قانون لومړی ماده له مخې په داسي ودانیو کې اوسي چې د راډیو تلویزون د کتونکو غړي وي، مکلف دي چې د *3 §* قانون له مخې یې لګښت ورکړي. په ټاکلي ودانۍ کې د راډیو تلویزون د دستګاه شتون له هغې څخه د کاراخیستنې په مانا دی.

*(2)* د *1 §* قانون له مخې د لګښت د پرې کولو مکلفیت په لاندېنیو شرطونو کې نشته
۱. د راډیو تلویزون څخه د ګټې اخیستونکې غړی د *(3 Abs. 5 §)* له مخې د لګښت د پرې کولو څخه معاف دی او یا هغه ځای کې چې دی اوسېږي لګښت یې وار د مخه د *3 §* قانون پر بنسټ ورکول کېږي.

**د راډیو تلویزون له دستګاه څخه موخه ټول هغه توکي دي چې پر مټ یې تلویزون کتل کېدای او راډیو سېګنالونه نیول کېدای شي.**

## د ځای ټاکنه

**د راډیوتلویزون د لګښت د ورکولو د قانون له مخې د ځای تعریف څه دی؟**

د لګښت ورکولو قانون دې پوښتنې ته څېله ځواب ورکوي:

د رادیو تلویزون د لګښت د قانون یوه څنډه: RGG, BGBl. I Nr. 159/1999
**د راډیو تلویزون د لګښت د راټولولو په اړوند فدرال قانون**

§ 2 Abs. 2 RGG
ځای هغه کور یا نور هغه بند ځایونه دي چې د اوسېدو د ټاکلې موخې لپاره کارول کېږي او چېرې چې د راډیو تلویزون د سیګنال دستګاه موجوده وي.

GEBÜHREN INFO SERVICE

## د لاسرسي شرطونه – د دوو مرحلو پروسه/اداري پروسه

## د لاسرسي شرطونو لپاره قانوني بنسټونه

Abs. 1 47 § د راډیو تلویزون د لګښت د ورکولو اصول FGO BGBL. Nr. 170/1970

## په کور کې د اوسېدونکيو ګډ عاید

له دې څخه موخه په يوه کور کې د اوسېدونکيو د ټولو غړيو خالص عايد دی. له خالص عايد څخه موخه د کور د ټولو غړيو عايد، وروسته له هغې چې د قانون له مخې ټاکل شوې برخې ترېنه وويستل شي (د بېلګې په ډول د روغتيا د بيمې برخه، د ماليې برخه،..)

- هغه عايد چې په خالص عايد کې نه حسابيږي
- https://www.gis.at/befreien/haushaltseinkommen/einkuenfte

د کورنۍ د ټولو غړيو ګډ عايد بايد له هغې بريده وانه وړي چې د قانون له مخې يې پر بنسټ د راډيو تلويزون لګښت معافيږي.

- اوسنی شرطونه:
- https://www.gis.at/befreien/haushaltseinkommen

### *غيرمعمولي لګښتونه*

که چېرې خالص عايد د ټاکلي بريد څخه اوړي، غوښتنليک ورکوونکی کولای شي لاندیني توکي هم په حساب کې راوړي چې پر بنسټ يې کېدای شي لګښت ورته وبخښل شي:

- هغه غيرمعمولي لګښتونه چې د راډيو تلويزون د لګښت په بخښلو کې شمېرل کېدای شي (https://www.gis.at/befreien/haushaltseinkommen/abzuege)

GIS
GEBÜHREN
INFO SERVICE

## د راډیو تلویزون د لګښت د معافیت غوښتنلیک لپاره د اړتیا وړ اسناد

- د ټاکلي غوښتنلیک فورمه چې په سمه توګه ډکه شوط وي (که چېرې د تېلفوني مالي مرستې هیله کېږي، اړینه ده چې د تېلفوني شبکې نوم ورسره ولیکل شي.)
- د دولتي مادي مرستو د ترلاسه کولو د تائید سند (د رسمي اداري څخه – د اوسېدو د ځای د خاوند سند او یا شین کارت او یا هم د پناغوښتنې د پروسې سپین کارت کافي ندي)
- د اصولو له مخې معافیت د ۵ کالو لپاره ترلاسه کېدای شي خو هغه سند چې د تائید لپاره درلېږل کېږي د یو یا دوو کالو لپاره وي.
- که چېرې له خپل پخواني ادرس څخه بل ځای ته کډه کوئ، باید چې له سره بل غوښتنلیک وکړئ.

د راډیو تلویزون د لګښتونو څخه د معافیت لپاره او له هغې سره تړلو لګښتونو او د تیلفون د کرېډېټ د مرستې لپاره غوښتنلیک:

https://www.gis.at/fileadmin/user_upload/Documents/AV_EAG_ONLINE_22.pdf

## د تیلفون د کرېډېټ لپاره مالي مرسته

- د تیلفون کرېډېټ لپاره مالي مرسته یوازې یوه تن ته ورکول کېږي، په دې توګه چې له یوه کور څخه یو کس دا حق ترلاسه کولی شي.
- که چېرې مو د غوښتنلیک ځواب مثبت درغی، کولای شئ له هغې سند سره خپلې تیلفوني شبکې ته لاړ شئ چې ترلاسه یې کړئ.
- د تیلفون د کرېډېټ لپاره مالي مرسته د ۵ کالو لپاره منل کېږي خو سند یې د یوه یا دوه کالو لپاره صادرېږي.
- که چېرې له خپل پخواني ادرس څخه بل ځای ته کډه کوئ، باید چې له سره بل غوښتنلیک وکړئ.

د راډیو تلویزون د لګښتونو څخه د معافیت لپاره او له هغې سره تړلو لګښتونو او د تیلفون د کرېډېټ د مرستې لپاره غوښتنلیک:

https://www.gis.at/fileadmin/user_upload/Documents/AV_EAG_ONLINE_22.pdf

GEBÜHREN
INFO SERVICE

# انلاین خدمتونه

## د معافیت حسابوونکی

د معافیت د حسابوونکي له لارې کولی شئ په ازاده توګه دا مالومه کړئ چې ایا تاسې د راډیو تلویزون او د **(EAG)** د لګښت له ورکولو څخه معاف یاست او که نه، او دا چې آیا د تېلفون د کرېډېټ لپاره د مالي مرستې د ترلاسه کولو حق لرئ او که نه.

دا انلاینه اسانتیا د معافیت د دوو مرحلو له لارې ترسره کېږي:
لومړۍ مرحله: د وړیا لاسرسي د قانوني شرایطو ارزونه (بنسټیز مالومات)
دویمه مرحله: د کورنۍ د ټولو غړو د خالص عاید حسابول (خالص معاش، وروسته د دولتي بیمې او مالي بیمې تر حسابولو)

د **(Vervollständigen)** یا تکمیلوونکي تڼۍ له لارې د دې امکان شته چې غوښتنلیک کې خپل شخصي مالومات ولیکئ.
په پای کې بې د معافیت لپاره یو غوښتنلیک دی، او یو لست دی د ټولو هغو سندونو چې اړتیا ورته شته او همدا راز د ترلاسه شوې پاڼې کښته کولو چانس هم شته دی د (Download) تڼۍ په کېکاږلو سره.

## د راډیو تلویزون د لګښت د ورکولو ادارې (GIS) د اړیکو لارې

Das ausgefüllte Formular mit allen notwendigen Unterlagen senden Sie bitte an:

ډک کړل شوی غوښتنلیک یا فورمه د ټولو اړینو اسنادو سره هیله کېږي په لاندیني برېښنالیک یا پوستي ادرس مونږ ته راولېږئ:

**پوست:**
GIS Gebühren Info Service GmbH
Postfach 1000, 1051 Wien

**برېښنالیک:**
kundenservice@gis.at

لا زیات مالومات په لاندیني انټرنټي ادرس موندلی شئ:
www.gis.at